په هر چا چې د خپل (مسلمان) ورور کوم حق وي، که د عزت پايمالېدو يا بل څه په برخه کې وي نو همدا نن دې تر ې ځان خلاص کړي، مخکې لدې چې دينار او درهم به نه وي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله فرمايلي: «په هر چا چې د خپل (مسلمان) ورور کوم حق وي، که د عزت پايمالېدو يا بل څه په برخه کې وي نو همدا نن دې تر ې ځان خلاص کړي، مخکې لدې چې دينار او درهم به نه وي، ځکه (په قيامت کې کې به بيا) که ښه نېک عمل ولري، نو د حق په اندازه به يې تر ې واخېستل شي او که نيک ونه لري، د هغه بد عملونه پر ده ور اچول کېږي».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

نبي هر هغه کس ته امر کړی چې د خپل مسلمان ورور عزت پايمالېدو، مال يا يې وينې تويېدو په برخه کې يې ورسره ظلم کړی وي چې په دنيا کې ورته بخښنه وکړي، مخکې لدې چې قيامت راشي، چېرته چې بيا د سرو زرو دينار يا د سپينو زرو درهم د ځان خلاصولو لپاره ګټه نه کوي؛ ځکه چې هلته قصاص د نېکيو او بديو پر بنياد ده: مظلوم د ظالم له نېکيو څخه د خپل حق په اندازه اخلي، او که ظالم نيک ونه لري، نو د مظلوم ګناهونه دظلم په اندازه پر ظالم ور اچول کېږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5438